د عامې روغتیا وزارت

# روغتیا اوونیزه

## پرلیکه خپرونه

لومړی پړاو - اته دیرشمه ګڼه

۱۴۴۷-۱۱-۲۹

- د 16 ولایتونو قومي مخورو سره د عامې روغتیا وزیر ناسته!
- روسيې هېواد ته د خوړو او درملو مرستیال د سفر جزیات!
- د انتاني ناروغیو درملنې ملي او تخصصي روغتون له خدماتو لیدنه!
- تلسیمیا ناروغی په اړه د عامه پوهاوی غونډه !
- هلمند ولایت کې د دریو روغتیایي مرکزو جوړېدل!

د ویاند دفتر، اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

## د عامې روغتيا وزارت د مالي او اداري چارو مرستيال، ښاغلي قاري عبدالولي صديقي او مل پلاوي د انتاني ناروغيو درملنې ملي او تخصصي روغتون د خدماتو له بهير څخه ليدنه ترسره کړه



په دې ليدنه کې ښاغلي مرستيال د ياد روغتون د روغتيايي کارکوونکو هڅې وستايلې او هم يې ورته لازمې لارښوونې وکړې، چې د ناروغانو د ستونزو په حل او د روغتيايي خدماتو کيفيت لوړولو کې لا زياتې هڅې ترسره او ټينګار يې وکړ، هر روغتيايي کارکوونکی مکلف دی، چې خپل ايماني او وجداني مسؤليت په غوره ډول اداء کړي.

همدارنګه، د مالي او اداري چارو مرستيال له روغتيايي کارکوونکو، ناروغانو او مراجعينو سره په ليدنه کې د هغوی غوښتنې واورېدې او د بشپړې پاملرنې ډاډ يې ورکړ.

## وزارت صحت‌عامه امتحان ارتقایی داکتران ترینی پروگرام اکمال تخصص سال 1404 خورشیدی را برگزار کرد



این امتحان از حدود 2600 داکتر ترینی در 36 رشته تخصصی و فوق تخصصی، در مرکز کابل و شفاخانه‌های تخصصی ده ولایت اخذ گردید.

این امتحانات که برای سه روز ادامه داشت، به‌گونه هم‌زمان در مرکز و ولایات، با شفافیت کامل و در حضور نماینده گان ریاست عمومی اکمال تخصص و استادان برگزار گردید.

مسئولان وزارت صحت‌عامه می‌گویند که برگزاری چنین امتحانات، نقش مهمی در تقویت سکتور صحی کشور و آموزش داکتران متخصص دارد.

## In Herat Province, the Ministry of Public Health has procured advanced equipment worth nearly five million US dollars for the Drugs and Healthcare Products Quality Assessment Laboratory.



Officials of the Provincial Public Health Directorate said that food testing had already been initiated in the laboratory, and with the setting up of equipment for the food and drug sector, further facilities will be provided to traders and industrialists.

The Head of Food and Drug of the Herat Provincial Public Health Directorate, Feroz Ahmad Yarzada, stressed the importance of cooperation between the public and private sectors in developing and standardizing the laboratory, noting that this would eliminate the need to send samples abroad for testing.

Similarly, several industrialists described the establishment of the laboratory as an important step in testing their products, adding that they will now be able to test their product samples more easily and in a shorter time at this center in the country.



## د افغانستان ا.ا. د عامې روغتيا وزير، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي په خپل کاري دفتر کې د زنځير اميد (CDE) مؤسسې له عمومي مشر، انتوني دوتامپل او مل پلاوي سره ليدنه تر سره کړه

په دې ليدنه کې د يادې مؤسسې د ستراتيژۍ، د مـــــــــــور او ماشوم د روغتيا (MRH) فعاليتونو، د بېړنيو نسايي او ولادي خدمتونو (BeMOC) د ملاتړ، روغتيايي کارکوونکو ته د ظرفيت لوړونې په موخه د روزنيزو پروګرامونو برابرولو، د اندراګاندي روغتون د زړه ناروغيو درملنې خانګې د تجهيز او د روغتـــــيايي سکتور اړوند د همغږۍ او همکاريو د پراختيا په اړه بحث او خبرې ترسره شوې.

د عامې روغتيا وزير، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي د روغتيايي سکتور پياوړتيا برخه کې د همکارو سازمانونو او مؤسسو همکارۍ مهمه وبلله او په صدري ابن سينا روغتون کې د لويانو د زړه ناروغيو خدمتونو د پراختيا، په اندراګاندي روغتون کې د زړه ناروغيو درملنې څانګې د تجهيز او لا معياري کېـــــدو او د روغتيايي کارکوونکو ظرفيت لوړولو برخه کې د لا زياتو همکاريو غوښتنه وکړه.

بل لور، د زنځير اميد(CDE) مؤسسې استازو د افغانستان روغتيا سکتور د ملاتړ برخه کې د خپلو دوامدارو همکاريو د دوام ډاډ څرګند او يادو برخو کې يې د لازمو همکاريو ژمنه وکړه.



## نشستی به خاطر بررسی وارزیابی ربع چهارم سال 1404 برنامه ملی معافیت کتلوی برگزار شد

این نشست با حضور محترم مولوی عبدالولی حقانی معین عرضه خدمات صحی، شیخ محمد طاهر حلیم ریس عمومی دفتر مقام ، داکتر علی احمد سیفی، مسئول عمومی برنامه ملی معافیت کتلوی، نماینده‌گان سازمان صحی جهان، اداره یونیسف، اکسوس و نهادهای همکار ارائه‌کننده خـــــــــدمات صحی (BPHS) برگزار گردید.

در این نشست، بر اهمیت برنامه واکسیناسیون، ارائه خدمات دقیق و تطبیق مؤثر فعالیت‌ها تأکید گردید. و فعالیت‌های واکسیناسیون در 34 ولایت کشور و اجراآت مؤسسات تطبیق‌کننده در زون‌های هفت‌گانه به‌گونه همه‌جانبه مورد بحث و ارزیابی قرار گرفت. همچنان در این نشست، شاخص‌های کلیدی اجراآت، میزان تحقق اهداف تعیین‌شده، کیفیت خدمات، چالش ها و دسترسی عادلانه و پوشش سراسری واکسیناسیون به‌صورت دقیق بررسی شد.




## In Takhar Province, one ton of expired and substandard medicines were disposed of.

The monitoring and inspection team of the Takhar Provincial Public Health Directorate conducted comprehensive inspections of private health facilities in various areas of Dashti Qala, Darqad, and Khwaja Bahauddin districts. As a result, one ton of expired and substandard medicines were collected and disposed of in the presence of the relevant authorities.




## د افغانستان ۱.۱ د عامې روغتيا وزارت له لوري د تلسيميا ناروغۍ په اړه د عامه پوهاوي غونډه ترسره شوه

په همدې موخه جوړو شويو مراسمو کې د عامې روغتيا وزارت د روغتيايي خدمتونو وړاندې کولو مرستيال ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني، د وزارت مرکزي رئيسانو او د رسنيو استازو ګډون کړی و.

د روغتيايي خدمتونو وړاندې کولو مرستيال وويل: د تلسيميا ناروغانو ښې درملنې لپاره په هېواد کې ځانګړي مرکزونه جوړ شوي دي، چې دا مهال په سلګونو ناروغان په دغو مرکزونو کې تر درملنې لاندې دي او زياته يې کړه، د افغانستان ۱.۱ د روغتيايي سکتور پياوړتيا خپل لومړيتوب ګڼي او هڅه کوي چې د تلسيميا ناروغانو لپاره روغتيايي خدمات لا پراخ او پياوړي شي.

همدارنګه، د عامې روغتيا وزارت د مقام د دفتر لوی رئيس، شيخ محمد طاهر حليم وويل: د عامه پوهاوي پروګرامونو ترسره کېدو ترڅنګ، نړيوال بنسټونه او سوداګر هم بايد د تلسيميا ناروغۍ د مخنيوي او په دغې ناروغۍ د اخته ناروغانو ملاتړ برخه کې همکاري او مرسته وکړي.


ورته مهال، د وينې ملي بانک امر ډاکټر نيازګل نيازمند وويل: تلسيميا يوه خطرناکه او ارثي ناروغي ده، چې ناروغان يې دوامدارې وينې ته اړتيا لري او دا مهال په کابل او ولايتونو کې زيات شمېر ناروغان ثبت شوي دي.



## د عامې روغتيا وزارت د معالجوي طب لوی رياست له لوري د صدري ابن سينا روغتون لپاره د مسلکي کادرونو د جذب او ګمارنې په موخه له 19 تنو څخه د زړه داخلې، نرسنګ، د زړه جراحي، انستيزي او د زړه پرفيوژنيست برخو کې ازموينه واخيستل شوه

نوموړې ازموينه د ګډونوالو د علمي او مسلکي وړتياوو ارزونې په موخه د کارکوونکو چارو لوی رياست، اکمال تخصص لوی رياست، د معالجوي طب لوی رياست او د زړه پروژې برخې د استازو په شتون کې واخيستل شوه؛ څو وړ او په شرايطو برابر کسان د روغتيايي خدمتونو وړاندې کولو لپاره وټاکل شي.

د يادونې وړ ده، چې د معالجوي طب لوی رياست دغه ازموينه د مسلکي کادرونو د جذب په موخه ترسره کړه، ترڅو په صدري ابن‌سينا ملي او تخصصي روغتون کې په لومړي ځل د زړه د خلاصو عملياتونو خدمات پيل شي.




## Over the past year, a total of (2197) successful surgical procedures were performed at Maidan Wardak Provincial Hospital.

Of these, (1164) were major surgeries and (1033) were minor procedures, all carried out by experienced doctors, reflecting the hospital's strong technical capacity and specialized expertise.

It is also noteworthy that during the same period, (11599) patients received inpatient (IPD) services, while (160310) patients benefited from outpatient (OPD) healthcare services.

## د عامې روغتيا وزارت له لوري د نورستان ولايت اوسېدونکو لپاره د روغتيايي خدمتونو پياوړتيا او پراختيا په موخه له ARSDO مؤسسې سره د (5072561) پنځه ميليونه دوه اويا زره پنځه سوه يو شپېته ډالرو په ارزښت تړون لاسليک شو




دا تړون د روغتيايي خدمتونو کيفيت لوړولو، لاسرسي زياتولو او د ولس روغتيايي ستونزو کمولو په موخه د يو کال لپاره لاسليک شو، چې په پلي کېدو سره به يې د ياد ولايت اوسېدونکي له اساسي روغتيايي خدماتو برخمن او (771) تنو ته به په روغتيايي برخه کې د کار زمينه هم برابره شي.
بل لور، د ARSDO مؤسسې استازو هم ډاډ څرگند کړ، چې ياده پروژه به د يو کال په ترڅ کې د ټولو ټاکل شويو معيارونو سره سمه پلي کړي او د خلکو روغتيايي اړتياوو پوره کولو ته به ځانگړې پاملرنه کوي.

## 40 کارتن ادویه بی‌کیفیت در بندر شیخ ابونصر فراهی ولایت فراه حریق گردید




میاجان حسن‌زی، آمرغذا و ادویه ریاست صحت‌عامه فراه، گفت: « که این 40 کارتن ادویه واردشده شامل کپسول اوکسی‌تتراسیکلین بود که از کشور چین به افغانستان وارد شده و بعد از ثابت شدن بی‌کیفت در حضور هیئآت مشترک حریق شد.
به گفته وی این ادویه‌ها حدود 20 روز پیش ضبط شده بود که ارزش مجموعی آن به 369 هزار افغانی می‌رسد.

همچنان آمرغذا و ادویه ریاست صحت‌عامه فراه، از تأمین غذای سالم و ادویه مصوون به مردم اطمینان داده افزود، که تمام ادویه و مواد غذایی ،وارداتی توسط تاجران ملی، پس از آزمایش لابراتواری و دریافت نتایج مثبت به بازار عرضه می‌شود.

## A three-month capacity-building training program has been launched for healthcare workers of the Cardiology Department at the Indira Gandhi Children's National and Specialized Hospital by the Ministry of Public Health.



At a ceremony held for this purpose, Dr. Wahdat Alokozai, Director General of Curative Medicine at the MoPH, Dr. Mohammad Shafiq Amin, Head of the Cardiac Project, along with cardiology specialists and other healthcare staff, were present.
Dr. Wahdat Alokozai described the launch of the program as a positive initiative and a result of effective management, stressing the importance of its continuation. He said such programs are vital for strengthening healthcare workers' capacity and improving service delivery.
Notably, the Curative Medicine Directorate of the MoPH continues to conduct various training programs aimed at strengthening the professional capacity of healthcare workers and improving the quality of healthcare services.



## د عامې روغتیا وزارت د روږدو درملنې ملي برنامې رئیس، الحافظ انعام الله عمار او مل پلاوي بدخشان او کندز ولایتونو ته د سفر په ترڅ کې د روږدو درملنې مرکزونو څخه نظارت ترسره کړ

د دې نظارت په ترڅ کې د یادو مرکزونو د روغتیایي خدمتونو کیفیت، د ناروغانو د درملنې بهیر، د درملو موجودیت، د کارکوونکو کړنې او د بسترونو وضعیت وارزول شو. همدارنګه، د مرکزونو له مسؤلینو او روغتیایي کارکوونکو سره د شته ستونزو، اړتیاوو او د خدمتونو ښه والي په اړه خبرې وشوې.

الحافظ انعام الله عمار د روږدو کسانو د اغېزمنې درملنې او بیا رغونې پر اهمیت ټینګار وکړ او اړوندو مسؤلینو ته یې سپارښتنې وکړې، چې ناروغانو ته معیاري، دوامدار او پر وخت روغتیایي خدمات وړاندې کړي او ډاډ یې ورکړ، چې د روږدو درملنې مرکزونو پیاوړتیا او د خدمتونو ښه والي لپاره به لازمې هڅې دوام ولري.




## د عامې روغتیا وزارت له لوري د کونړ ولایت اوسېدونکو لپاره د روغتیایي خدمتونو پیاوړتیا او پراختیا په موخه له TDH مؤسسې سره د (117704) یو سل اوولس زره اووه سوه څلور ډالرو په ارزښت تړون لاسلیک شو

دا تړون د روغتیایي خدمتونو کیفیت لوړولو، لاسرسي زیاتولو او د ولس روغتیایي ستونزو کمولو په موخه د یو کال لپاره لاسلیک شو، چې په پلي کېدو سره به یې د یاد ولایت (19127) تنه اوسېدونکي له اساسي روغتیایي خدماتو برخمن او (9) تنو ته به په روغتیایي برخه کې د کار زمینه هم برابره شي.

بل لور، د TDH مؤسسې استازو هم ډاډ ځرګند کړ، چې یاده پروژه به د یو کال په ترڅ کې د ټولو ټاکل شویو معیارونو سره سمه پلې کړي او د خلکو روغتیایي اړتیاوو پوره کولو ته به ځانګړې پاملرنه کوي.



## In his official office, Mawlawi Abdul Wali Haqqani, Deputy Minister for Health Services of the Ministry of Public Health, met with representatives of the United Nations Development Programme (UNDP)

Both sides discussed the activities of staff involved in the HIV, tuberculosis, and malaria programs, as well as the provision of support for the supply of medicines for these diseases.

The Deputy Minister emphasized the important role of UNDP cooperation in strengthening the country's health system, particularly the HIV, tuberculosis, and malaria programs, and stressed the need to continue supporting health workers and ensuring the provision of essential medicines for patients.

The representatives of UNDP assured continued cooperation in the provision of medicines and support for the HIV, tuberculosis, and malaria programs, and expressed their commitment to strengthening health services.




## د سرطان د تشخیص او درملنې ملي روغتون ته هره ورځ شاوخوا 200 تنه ناروغان د تشخیص، درملنې او طبي مشورو ترلاسه کولو په موخه مراجعه کوي

د یاد روغتون مسلکي ډاکټران او روغتیايي کارکوونکي هڅه کوي؛ څو ناروغانو ته پر وخت، معیاري او اغېزمن روغتیايي خدمات وړاندې او د هغوی د درملنې بهیر په منظم ډول پر مخ یوسي.
د دې روغتون اساسي موخه په افغانستان کې د سرطاني ناروغیو د پېښو کمول، د سرطان ناروغانو ته د معیاري روغتیايي خدماتو وړاندې کول او له ناروغانو څخه هر اړخیز ملاتړ دی، څو ناروغان وکولای شي په مناسب چاپېریال کې اړینې روغتیايي اسانتیاوې ترلاسه کړي.
د سرطان د تشخیص او درملنې ملي روغتون د داخله انکولوژي، جراحي انکولوژي، تشخیصیه انکولوژي، مداخلوي راډیولوژي، تشخیصیه راډیولوژي، پتالوژي، انډوسکوپي، لابراتوار، نرسنګ، فارمسي، ارواپوهنې، عامه پوهاوي او د سرطان رجستري برخو کې تخصصي او معیاري خدمات وړاندې کوي.
د عامې روغتیا وزارت ژمن دی، چې د نورو روغتیايي برخو ترڅنګ د سرطاني ناروغیو درملنې برخه کې هم ناروغانو ته لازمې اسانتیاوې رامنځته او په هېواد کې د معیاري درملنې زمینه لا پراخه کړي.




## 14تُن ادویه، مواد طبی و مواد خوراکی تاریخ‌گذشته از سوی مسوولان ریاست صحت‌عامه ولایت پنجشیر از بین برده شد

مسوولان ریاست صحت‌عامه این ولایت گفتند: که این مواد توسط آمریت نظارت و بازرسی از بازارها، دواخانه‌ها، مراکز صحی دولتی و خصوصی مرکز و ولسوالی‌های ولایت پنجشیر جمع‌آوری شده بود که در حضور هیأتی متشکل از نماینده‌گان ادارات مختلف و رسانه‌ها از بین برده شد.




## The Monitoring and Inspection Directorate of the Afghanistan Food and Drug Authority, under the Ministry of Public Health, conducted inspections of 12 wholesale pharmacies in the Hotel Parwan area of District 11.

The inspections aimed to regulate prices, prevent substandard medicines and monopolistic practices, enforce health regulations, and ensure the availability of quality medicines in the market. Pharmacy owners were instructed to comply with health laws and address existing shortcomings.

As a result, four wholesale pharmacies were closed for lacking the required documentation.




## تېر کال د هلمند په ولايتي روغتون کې (8694) بريالي جراحي عملياتونه ترسره شوي دي

د يادو عملياتونو له ډلي (6774) ستر عملياتونه او (1920) واړه عملياتونه دي، چې د مجربو ډاکټرانو له لوري تر سره شوي او د ياد روغتون د تخنيکي او تخصصي ظرفيت څرګندونه کوي.

د يادونې وړ ده، چې په همدې موده کې (27625) تنه ناروغانو ته داخل بستر او (166952) تنه مراجعينو ته خارج بستر روغتيايي خدمات وړاندې شوي دي.



## یک تعداد وسایل به ارزش حدود 1.3 میلیون افغانی به بخش نوزادان شفاخانه حوزوی ننگرهار، کمک شد

این کمک (ARMC) از طرف اداره یونیسف به‌منظور فعال‌سازی بخش مراقبت مادر-نوزاد در بخش نوزادان صورت گرفته است که شامل بسترها، چوکی، میز، الماری، یخچال و سایر وسایل ضروری می‌باشد



## Medicines Worth 1.2 Million Afghanis Donated to Health Centers in Khwaja Ghar District of Takhar Province

The assistance was provided by the Takhar Provincial Public Health Directorate in coordination with the AKF organization, and the donated medicines were delivered to the Khwaja Ghar Comprehensive Health Center and the Hazar Bagh Comprehensive Health Center.

The Director of Takhar Public Health expressed appreciation for the organization's continued support and said the medicines would be distributed transparently to the patients in need at the health centers.

## د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي په خپل کاري دفتر کې د هېواد د 16 ولایتونو له قومي مخورو سره لیدنه وکړه



په دې لیدنه کې د بېلابېلو ولایتونو قومي مخورو د خپلو سیمو د روغتیایي اړتیاوو او غوښتنو په اړه خبرې تر سره او د عامې روغتیا وزارت له رهبرۍ یې وغوښتل، چې لرې پرتو سیمو ته دې د روغتیایي خدمتونو رسولو لپاره ځانګړې پاملرنه وشي؛ څو د هېواد ټول وګړي وکولای شي په اسانه توګه خدماتو ته لاسرسی ولري.
د عامې روغتیا وزیر ولس ته د باکیفیته روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو ډاډ څرګند او ویې ویل: د اسلامي امارت مشرتابه او عامې روغتیا وزارت ژمن دي، چې د هېواد ټولو وګړو ته معیاري او عادلانه روغتیایي خـدمتونه ورسوي.
ښاغلي وزیر زیاته کړه، د روغتیایي خدمتونو د پراختیا په موخه د هېواد په 318 ولسوالیو کې د عمومي روغتونونو د جوړېدو لړۍ پیل شوې، چې له بشپړېدو سره به یې زرګونه هېوادوال روغتیایي خدمتونو ته اسانه لاسرسی ومومي.

## مسوولان ریاست صحت‌عامه ولایت پنجشیر به منظور ارتقاء ظرفیت کارمندان صحی و بهبود کیفیت خدمات صحی، برنامه آموزشی مراقبت از نوزادان (FBNC) را برای کارمندان مراکز صحی این ولایت برگزار نمودند



این برنامه آموزشی که هدف اساسی آن ارائه خدمات بهتر و مؤثرتر به نوزادان در مراکز صحی می‌باشد، شامل آموزش‌هایی در زمینه مراقبت معیاری از نوزادان، روش‌های مؤثر مراقبت های صحی و تقویت مهارت‌های عملی برای اشتراک‌کننده گان بود.
همچنان مسوولان ریاست صحت‌عامه پنجشیر تأکید نمودند که، برگزاری چنین برنامه‌های آموزشی نقش مهمی در بهبود کیفیت خدمات صحی و پاسخگویی به نیازهای صحی مردم دارد.

## The Ministry of Public Health has supplied essential medical supplies and laboratory materials worth 2.2 million Afghanis to the Nangarhar Regional Blood Bank.



The supplies and materials were transferred to the central medical warehouse in the presence of several officials and will soon be distributed to the blood bank and relevant laboratory departments. This support is expected to further improve the quality, efficiency, and delivery of health services.





## د عامې روغتيا وزارت د داخلي تفتيش رئيس، مولوي محمد سليم حقاني او مل تخنيکي ټيم ميدان وردگ ولايت ته د سفر په ترڅ کې د ياد ولايت د عامې روغتيا له رياست څخه ليدنه وکړه

په دې ليدنه کې چې د روغتيايي خدماتو ښه والي او شته ستونزو حل په اړه خبرې وشوې، د ميدان وردگ ولايت عامې روغتيا رئيس حافظ سعيد الرحمن د ياد پلاوي هرکلی وکړ او ويې ويل: د عامې روغتيا وزارت مرکزي مسؤلينو دا ډول سفرونه د ستونزو حل او اسانتياوو رامنځته کېدو لپاره مهم دي او زياته يې کړه، د روغتيايي خدماتو پياوړتيا لپاره به خپلو هڅو ته دوام ورکوي.

دغه راز، د عامې روغتيا وزارت د داخلي تفتيش رئيس د ميدان وردگ ولايت د عامې روغتيا رياست پر هلو ځلو خوښي څرگنده او د خدماتو لا ښه والي او اغېزمنتيا په موخه يې ورته لازمې سپارښتنې وکړې او ويې وويل، د روغتيايي خدماتو ښه والي په موخه به هر راز ستونزې په گډه حلوي او هڅه کوي چې د ميدان وردگ ولايت وضعيت ته په کتو روغتيا برخه کې د پام وړ بدلونونه راولي؛ څو خلکو ته لازمې اسانتياوې رامنځته شي.




## وزارت صحت عامه به‌منظور تقویت و گسترش خدمات صحی برای باشنده‌گان ولایت پکتیا، با مؤسسه (Health Net-TPO) قرارداد را به ارزش (10٬349٬099) ده میلیون و سه‌صد و چهل‌ونه هزار و نودونه دالر امریکایی به امضا رسانید

این قرارداد به‌منظور ارتقاء کیفیت خدمات صحی، افزایش دسترسی و کاهش مشکلات صحی مردم، برای مدت یک سال به امضا رسیده است که با تطبیق آن، باشنده‌گان این ولایت از خدمات اساسی صحی بهره‌مند شده و برای (1538) تن نیز زمینه کار در بخش صحی فراهم خواهد شد.

از سوی‌هم، نماینده‌گان مؤسسه Health Net-TPO نیز اطمینان دادند که این پروژه را در جریان یک سال، مطابق تمام معیارهای تعیین‌شده تطبیق نموده و به برآورده‌ساختن نیازهای صحی مردم توجه ویژه خواهند کرد.

## The tender opening process for the construction of a new building for the AIDS, Hepatitis, and Sexually Transmitted Infections (STI) Control Center in Parwan Province was conducted.



The process took place in the presence of representatives from the Procurement, Public-Private Partnership (PPP), and Administrative Directorates of the Ministry of Public Health, as well as representatives from several construction firms.

Officials overseeing the tender opening process at the Ministry of Public Health stated that the procedure was carried out in a fully transparent manner. They emphasized that the successful bidder is expected to implement the project within the specified timeframe and in accordance with the ministry's technical specifications and contractual conditions, noting that the project is of public importance and will be subject to continuous supervision and monitoring.

Meanwhile, representatives of the participating construction companies assured the ministry that, if awarded the contract, they would carry out the construction of the center in compliance with the Ministry of Public Health's approved standards and requirements.



## د ننګرهار ولایت سپین غر ولسوالۍ ماندرۍ سیمه کې د 7.1 میلیون افغانیو په لګښت د یو (BHC) روغتیایي مرکز د جوړېدو ډبره کېښودل شوه

په همدې موخه جوړو شویو مراسمو کې چې د ننګرهار مرستیال والي مولوي غلام الرحمن حیدري، د عامې روغتیا رئیس مولوي امین الله شریف، یو شمېر نورو ولایتي رئیسانو او مسؤلینو شتون درلود، مرستیال والي وویل: دا روغتیایي مرکز د امیرالمؤمنین حفظه الله د ځانګړې پاملرنې له مخې په درې جریبه ځمکه په اساسي ډول جوړیږي، چې د سیمې اوسېدونکو ته به د روغتیایي خدماتو برخه کې اړینې اسانتیاوې رامنځته کړي.

همدارنګه، د ننګرهار عامې روغتیا رئیس وویل: دغه مرکز به د یولس کسیز روغتیایي ټیم په لرلو سره د مور او ماشوم، تغذیې، واکسین او ګڼو نورو برخو کې خدمات وړاندې کوي.

## تیم نظارت و بررسی ریاست صحت‌عامه ولایت تخار از 28 باب تأسیسات صحی خصوصی نظارت نمود




این نظارت از 23 باب معاینه خانه، 3 باب مراکز ساخت دندان، و2 باب لابراتوار صحی در نقاط مختلف شهر تالقان ولایت تخار صورت گرفت که در نتیجه آن، ، 13 باب معاینه خانه و مراکز ساخت دندان و یک باب لابراتوار به‌دلیل نداشتن جواز قانونی، موجودیت افراد غیرمسلکی و برخی نواقص دیگر مسدود گردیدند.

همچنان این تیم نظارت به مسوولان همه تأسیسات صحی خصوصی توصیه نمود تا از واردات، استفاده و فروش ادویه جات تاریخ‌گذشته و بی کیفیت جداً خود داری کنند.

## The Public Health Directorate of Panjshir Province has launched five mental health rehabilitation centers in Hisa-e-Awal and Paryan districts.



The Director of Public Health of Panjshir Province, Dr. Hujatullah Mohammadi, said that these centers were established to improve access to mental health services for the public. He added that two of the centers are in Hisa-e-Awal District and the remaining three in Paryan District.

These services were opened following a $93,130 agreement between the Ministry of Public Health and (HHWO), aimed at providing treatment and counseling services for patients with mental health conditions.




## د هلمند ولايت بغني او باغران ولسواليو کې د شاوخوا 25 ميليونه افغانيو په لګښت د درې روغتيايي مرکزونو ودانۍ جوړې او ګټې اخيستنې ته وسپارل شوې

يادې ودانۍ د IOM مؤسسې په مالي ملاتړ جوړې شوي، چې په فعاليت سره به يې د بغني او باغران ولسواليو د اوسېدونکو لاسرسی لومړنيو او اساسي روغتيايي خدمتونو نور هم اسانه او ناروغان به له ګڼو ستونزو پرته خپلو سيمو ته نږدې روغتيايي خدمات ترلاسه کړي.




## 35 تُن ادویه جات و مواد خوراکی تاریخ‌گذشته و بی‌کیفیت در ولایت قندز حریق گردید

این مواد توسط تیم‌های نظارتی ریاست صحت‌عامه ولایت قندز، در مدت هشت ماه گذشته از عمده‌فروشی‌ها، پرچون‌فروشی‌ها و گدام‌های شهر قندز جمع‌آوری شده بود. که در حضور نماینده گان ادارات مربوطه و رسانه ها، در ساحه دشت آبدان این ولایت حریق گردید.

داکتر محمدالله حکمت رئیس صحت‌عامه قندز گفت: هدف از این اقدام جلوگیری از فروش و استفاده مواد مضر و غیرمعیاری است. وی تأکید کرد که ریاست صحت‌عامه متعهد به حفظ صحت مردم بوده و در برابر فروش و توزیع ادویه جات و مواد خوراکی بی‌کیفیت، تاریخ‌گذشته و غیرقانونی، برخورد جدی و قانونی انجام خواهد داد.



## Medical Equipment Worth Nearly 1.2 Million Afghanis to Paktia Provincial Hospital

The donation was made by the International Committee of the Red Cross (ICRC) with the aim of strengthening healthcare services, addressing the needs of the emergency department, and improving patient care.





## د عامي روغتيا وزارت د خوړو او درملو مرستيال، ښاغلي مولوي حمدالله زاهد او مل پلاوي روسيې هېواد ته د خپل رسمي سفر په ترڅ کې د روسيې د روغتيا وزارت له مرستيالانو او همدارنګه، د نړیوالو همکاریو او عامه اړیکو د ډیپارټمنټ او د طبي وسايلو د ثبت او کنټرول اداري له رئيسانو سره د خوړو او درملو اړوند پر مهمو موضوعاتو خبرې وکړې

دغه راز، په دې لیدنه کې دواړو لورو د خوړو او درملو او روغتیایي محصولاتو په برخه کې د دوه اړخیزو همکاريو پر پراختیا، د همکاريو د هوکړه لیکونو پر لاسلیکولو، د پانګونې پر اسانتیاوو، د درملو د وارداتو او صادراتو د بهیر پر ښه والي، د درملو جوړوونکو شرکتونو د ثبت او راجستر بهیر او د تخنیکي همکاریو پر پیاوړتیا بحث تر سره کړ.
همدارنګه، د روسیې د درملو د کیفیت کنټرول لابراتوارونو څخه لیدنه او د تجربو اخیستنه، د افغانستان د ډاکټرانو او تخنیکي کادرونو د ظرفیت لوړونه، د درملو د تنظیم او کیفیت کنټرول په برخه کې د روسیې د معیاري سیستمونو او معیارونو کارول د دې ناستې له مهمو موضوعاتو څخه وو.
د خوړو او درملو مرستیال، د یاد سفر اساسي موخه افغان سوداګرو ته د معیاري او مناسب قیمت لرونکو وارداتو د اسانتیاوو برابرول، او همدارنګه د ګډو پانګونو جلبول وبلل.
په پای کې، دواړو لورو د دوامدارو همکاریو پر پراختیا، د باکیفیته او خوندي درملو د صادراتو پر اسانتیا او د درملو او روغتیایي محصولاتو په سکتور کې د پانګونې فرصتونو پر رامنځته کولو ټینګار وکړ.



## مولوی محمد سلیم حقانی، رئیس تفتیش داخلی وزارت صحت‌عامه و تیم تخنیکی همراهش، در سفری به غزنی با مولوی عبدالصمد جاوید، والی این ولایت، دیدار نمودند

در این دیدار که در مورد بهبود خدمات صحی و حل مشکلات موجود بحث شد، مولوی عبدالصمد جاوید، والی غزنی، وعده داد که اداره ولایتی با اداره مرکزی برای تقویت بخش صحت همکاری خواهد کرد. وی افزود که چنین دیدار های مقامات وزارت صحت‌عامه برای حل مشکلات و ایجاد امکانات مهم است.
رئیس تفتیش داخلی گفت: که برای بهبود خدمات صحی، آنها به طور مشترک مشکلات را حل خواهند کرد و با توجه به وضعیت ولایت غزنی، تلاش خواهند کرد تا تغییرات قابل توجهی در بخش صحت ایجاد کنند؛ تا امکانات لازم برای مردم فراهم گردد.
قابل ذکر است که، این هیئآت همچنان از ریاست صحت‌عامه غزنی، اداره غذا و ادویه و برخی دیگر از بخش‌های صحی بازدید نمودند، مشکلات موجود را شناسایی و برای حل آنان را با مقامات مربوطه در میان گذاشتند؛ تا کیفیت و اثر بخشی خدمات بهبود یابد.



## The tender opening process for the construction of a new building for the AIDS, Hepatitis, and Sexually Transmitted Infections (STI) Control Center in Paktika Province was conducted.

The process was conducted in the presence of officials from the Ministry of Public Health's tender opening committee and representatives of several construction companies. Officials overseeing the tender opening process said the procedure was fully transparent and stressed that the successful bidder must complete the project within the set timeframe and in line with the ministry's technical requirements, noting that the project is of public importance and will be closely monitored